## مطبوعاتي اعلامیه

## امریکا او د هغې لاسپوځي افغان دولت ته د افغانو ښځو او ماشومانو وینه ارزښت نه لري

افغان او امریکایې ځواکونو د سپټمبر د میاشتې په ۲۲مه د هلمند ولایت د موسی کلا په ولسوالۍ کې د واده پر مراسمو برید وکړ. په یاد برید کې لږ تر لږه ۴۰ ملکي وګړي مړه او ۱۸ نور ټپیان شول. ګډ ځواکونه ادعا کوي چې برید یې د طالبانو پر پټنځای کړی دی، په داسې حال کې چې د هلمند د ولایتي شورا غړی عبدالمجید اخنزاده وایي، چې د وژل شوو ډېری برخه ملکي وګړي دي. د امریکایي بې پیلوټه الوتکې دا وژونکی برید له هغه برید وروسته کیږي، چې د سپټمبر په ۱۹مه یې د افغانستان په ختیځ ولایت ننګرهار کې شاوخوا ۷۰ بې ګناه بزګران مړه او ټپیان کړل.

له تېرو څو میاشتو راهیسې د طالبانو پر وړاندې د افغان امنیتي او ښکېلاکګرو ځواکونو په عملیاتو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله خورا ډېره شوې ده. د ملګرو ملتونو د جون د۳۰مې په راپور کې راغلي، چې د روان کال په لومړیو ٦ میاشتو کې د امریکایي او افغان ځواکونو په عملیاتو کې ۷۱۷ ملکي وګړي وژل شوي دي. دا د نورو وسلوالو ډلو له خوا د وژل شوو ملکي وګړو په پرتله ډېر دي.

د مسلمانانو د وینو توېدلو پر وړاندې د امریکا بې پروایي د حیرانۍ وړ نه ده، ځکه جنایتکاره صلیبي امریکا خپلې استعماري، سیاسي او اقتصادي ګټې د مسلمانانو د وینو تویولو په بیه خوندي کوي او دا ورته کوم لوړ قېمت نه دی، ځکه موږ یې په افغانستان، عرق او سومالیا کې شاهدان یو. تر ټولو دردوونکې خبره دا ده، چې افغان ځواکونه له ښکېلاکګرې امریکا سره اوږه په اوږه په سیمه کې د واشنګټن د اجنډا د پلي کولو لپاره خپلې میندې، خویندې، لوڼې او ماشومان وژني. په ۲۰۰۱م کال کې د امریکا له نیواک راپدېخوا د افغان چارواکو موخه د خلکو خدمت نه، بلکې د خپل واک، شخصي ګټو او د امریکایي بادارانو د ګټو خوندي کول وو. د دغو ټولو وژنو پر وړاندې د ولسمشر غني غبرګون ډېر مایوسوونکی و، د دې پرځای چې د دغو وژنو په تړاو امریکا پالیسي او له هغې څخه خپل ملاتړ وغندي، په ډېرې ساده ګۍ سره یې په نظامي عملیاتو کې د پاملرنې غوښتنه وکړه. امریکایي ځواکونو له تېرو ۱۸ کلونو راپدېخوا د افغان دولت او چارواکو په مرسته په دغه خاوره کې د وینو ویالې بهولې، زموږ خویندې یې سپکې کړې او د خلکو پر وړاندې یې په پوره جرات او قوت سره ویجاړې، ترور او جرمونه کړي دي.

په افغانستان کې به تر څه وخته ښځې، ماشومان او نور بې ګناه ملکي وګړي د ښکېلاکګرو د بې رحمه لاسوهنو قرباني کېږي؟ ځمکه د دوی وینو او اوښکو په سر اخیستې! زموږ د افغانو خویندو او ماشومانو قیمتي وینه څومره بې ارزښته شوې ده! د دوی مړینه په احصایوي شمېرو کې نه نیول او یوازې د ښکېلاکګرو اجنډاوو د خوندي

کولو په موخه ترې کار اخیستل کېږي. سربېره پردې د سپټمبر ۲۸مې ټاکنې د افغانستان خلکو ته کومه لاسته راوړنه نه لري. دوی د امریکا تر واک لاندې رژیم ته څنګه رایه ورکولی شي؟ موږ شاهدان یو، چې دا ډول ټاکنې یوازې د امریکایي لاسپوڅو او ګوډاګیانو واک ته د رسېدو په موخه کیږي، په داسې حال کې چې د خلکو کړاو او ناهیلي ورځ تربلې ډېرېږي. دا ډول ټاکنې له ماتو شوو ژمنو، دروغجنو هیلو، غولونو او د خلکو تر منځ د بې اتفاقۍ او تاوتریخوالي له اچولو پرته بل څه نه دي. ناامني، مرګ، ویجاړی، بېوزلي، بیکاري، فساد او ناوړه روغتیایي او زده کړه ییز نصاب لا هم د خرابۍ په لور روان دي.

په افغانستان کې به د مسلمانانو وینه تر هغه بهېږي، څو چې د امریکایي ښکېلاکګر او د هغوی د غربي مرستندویانو او لاسپوڅو نظامونو ریښې له بیخه ونه ایستل شي. دا یوازې هغه وخت امکان لري، چې د نبوت پر تګلاره اسلامي خلافت تاسیس او د هر بهرني قوت او دولت لاسوهنې او نفوذ ختم شي. دا به د نړۍ تر ټولو لوی سیاسي، اقتصادي او نظامي قوت وي، چې له خپلو وګړو څخه به ساتنه کوي. د مسلمانانو په خاوره کې به د ربښتیني سولې او ټیکاو ټینګولو ته ژمن وي او ټوله نړۍ به د اسلام په نور روښانه کړي.

**﴿تَرَى كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ اللّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ﴾**

[مائده:۸۰]

***ژباړه:*** *ته نن ورځ له هغوی څخه ډېری داسې خلک وینې، چې د مومنانو پر ضد د کفارو ملاتړ او ملګرتیا کوي. په ربښتیا هم دا حالت چې خپلو نفسونو ورسره مخ کړي، د دوی لپاره ناوړه پایلې لري. دا چې الله سبحانه وتعالی ورباندې په غضب شوی، نو دوی به په تلپاتې عذاب کې وي.*

**ډاکتر نسرین نواز**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو د څانګې رییسه**

**د صدور ګڼه: ۲/۱۴۴۱**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د صفر ۲مه**

**۲۰۱۹م کال، د اکتوبر ۱**